۷۸۶

اے کتابیانِ! هغې خبرې
ته راشئ. چه ځمونږ ستاسو لویه
اتفاق دے. یو الله خدائ ته ومنئ

پاکستان کښې عیسائی مشنرو ته خطاب

(مولانا الحاج) حبیب الرحمٰن مدظله
اج. پا. اج اے. میٹریکولیٹ
دارالتصنیف رستم

(۵-۱۱-۶)
دطبع کاتب رستم غزنی

پیشکش

د خوږ بنې روح ته دا هدیه -

پیش کوم

(ع) که قبوله شوه. نو د غه مې غرض دے!

(حبیب الرحمٰن)

(منظور عام پریس پیښاور)

فہرستِ مضامین

نمبر شمار	مضامین	صفحہ

بسم الله الرحمن الرحیم

په کروړونو شکرونه دی هغه خدائی لره چه
منکے ئے د یو خدائے د خدائی قائل کړو
او په لکهونو درودونه او رحمتونه دی په
خوږ نبی محمد صلی الله علیه وسلم چه هغه
منکے د ټولو پیغمبرانو په محبت او رسالت
یو په کړو.

دوستانو! نن ټوله دنیا دوه ډلے شویده.
یوه ډله خدائی منی. او بله ډله د خدائے نه منکره ده
ځکه ډیر ضرورت دے. چه دی دواړه په یخ
زړه په خپلو خبرو غور اوکی او د خپل زړه نه کرکه
اوباسی. او د مذهبی توحید بیرے غالب ته والجوی
او یو شی.

د دے ارادے د لاندے څه ډیر په اخلاص
د یو حق خبرے حقیقت ښکاره کوم. چه
د شکمن بنده شک په اوځی. او د توحید په منلو
یقین پیدا کی.

په پاکستان کښ د مختلف ملکونو نه عیسائیت د

تبلیغ د پاره په مختلف طریقو سره عیسایان کارکوی
لکه په عیسائی ملکونوکښ چه د مسلمانانو مبلغان په آزادی
سره د اسلام وعظونه کوی. څه د مسلمان" په نوم دے
د عیسائیت کارکونکوته او نورو شکمنو خلقوته د اسلام
او د عیسائیت حقیقتونه ښکاره کوم. او فیصله په
دی پرېږدم.
د عیسایانو پاکستان ته د راتللو ضرورت ته وګ منګ
خود قرآن د وینا په وجه عیسیٰ په دنیا او آخرت کښ مخه ورېز
منو ۳/۴۵ ال عمران. او عیسایان څوښ خو نبی محمد صلعم
پیغمبر نه منی. څکه څوښ یورپ ته تلو خامخا
پکار دی. او که څوک دلته پاکستان ته راغلی دی
نو د دی په کول هم څوښ د پاره ضروری دی چه د ی
بے خبره پاتے نه شی.
د دے په جواب کښ کید ے شی. چه عیسایان
صاحبان اووائی چه تاسو خو عیسیٰ پیغمبر قد ے منئ
نو منګ د د له راغلی بوچه تاسو ته دا ښکاره لوچه هغه
د خدائی څوئے" او د پیشتنے خدائی" دے
نو منګ به ورته د انجیل پو څو عبارتونو د ښکاره کو
چه د د بنه خود اسے معلومیګی چه هغه څو

تا خو پیغمبر هم نه مني.
لعنتي دے هغه بنده چه په سولئ نو ځړند شي
گلیسون باب ۳ آیت ۱۳
نو عیسیٰ ستا خو په عقیده ستا خو د گناهونو د پاره په سولئ شه او هغه په دے عبارت سره لعنتي شه
اِ تو به.
خیر خبره نه اُ گد وؤ.
سوال دا دے چه منگ خدائ یو منو او عیسایان درے خدایان داسے مني. چه پلار. ځوئے. روح القدس نو انجیل څه وائي ؟
خدائ اځمونږ خدائے یو دے. مرقس. باب ۱۲ آیت ۳
خو په عیسایان دا عقیده یهودیان ور داخله کړیده په یوُ خدائے کښ درے تنه کیږي ده ډیره عجیبه خبره ده. منگ په نه پوهیګو.
د دوئ د عقیدے نه هر څه چه ده دا سے معلومیږي چه د دے دنیا د اطول کار خدائے. عیسیٰ. او د ده مریم مور په درے واړه تنه کړیدے.
نو سوال دا دے. چه هر کله عیسیٰ په سولئ شه او مریم بي بي وفات شوه. نو چه اُوس به یوائے

بیوخدائے دا دُ مره د دړے تنو کار سړنګ کوی
دا خود دی د خدای متعلق لندې غوندې خبره شوه
پاتے نه انجیل چه د قرآن په هدایت منګ اصلی
اِنجیل د خدای کتاب منو۔ ؤلے دادی سخه نښنې
اِنجیل خو د خدای کتاب نه شی کیدے۔
کنی تاخو د ته خیال اُکړئ۔

یوحنا. باب ۲۱۔ آیت ۲۵
نور هم ډیر کارونه دی چه یسوع کړیدی. که هغه جدا
جدا اُلیکلے شی. نو ځما دا خیال دے. چه بیا به د نورو کتابونو
لیکلو ځای پاتے نه شی.

نو معلومه شوه چه انجیل یوحنا. او د غسے لوقا. د عیسے
شاګردانو لیکلے دے. او هغه هم نیمګړے پوره نه دے
ګویا یوحنا په انجیل کښ د عیسیٰ ع د ژوند تاریخ لیکی۔
د عیسےٰ د مرګ په باره د انجیلونو جدا جدا فیصلے دی۔

بیا یسوع په چغو چغو سا ورکه. مرقس باب ۱۵. آیت ۳۷
بیا یسوع هغه سرکه اُسکه. او داسے ئے اُوئے چه جزه
خلاصه شوه. او سر ئے خکته که. او روح ئے ورکه
یوحنا. باب ۱۹. آیت ۳۰.

او دا د عیسےٰ ع د وبنت خبره نه ده. بلکه د دے مے واقعے نه

روستو د ده شاګردانو د تاریخ په رنګ کښ مختلف ویناګانې اکمې دے. یو وینت نه اکوده. او مختلفو د خوشالی او غم مکوته اکوده. ورپسے دده د پیدائش واقعه اکورې.

یوحنا. او مرقش. خود دے اپوذکر نه کوی متی. او لوقا. د دے اختلافی ذکر کوی.

د لیسوع د پلار نوم یوسف. او د یوسف د پلار نوم یعقوب دۀ. متی باب ۱. آیت (۱۶)

لیسوع د یوسف ځوئی دۀ.

او یوسف د عیسے ځوئے دۀ.

لوقا. باب ۳. آیت ۲۳

اوس د لیسوع د نیکه جدا جدا نومونه څه ښکاره کوی؟ دائمے د نسب حال دے اګرچه نیکه ئے هر څوک چه وو کله کله عیسایان د خپل رښتنوالی په ثبوت کښ په دنیا کښ د خپل شمیر ډیر والے بیانوی.

کله وائی ځمونږ سخه حکومتونه دی. او مسلمانان سخه دانشته. کله وائی چه ځمونږ واعظان. دافریقے په ځنګلونو کښ په مارانو او شرمخانو کښ د عیسائیت تبلیغ کوی. او د مسلمانانو عالمان او نورنیکان

هیله په ممبرونو او کونګو کښې وعظونه او
وظیفې کوي. د دې سره د یتیمانو د کنډو او ناجوړو
او عاجزانو هیڅ فکر نشته. بلکې پله سوالګرې دي
خیراتونه ئې خوراک دے. د مال الانو
نه ویر ېږي. د دې خوشامندې کوي. په
یو بل د کفر فتوې لګوي.
او څومره عیسایان هر وخت د مخلوقِ خدا خدمت
کوي. د غریبو خلقو د ناجوړ د او جاهلانو امداد
نه کوي. سکولونه او کالجونه. هسپتالونه جوړه وي
څومره په کرجو کښې امن وي او ستاسو په جماتونو کښې
جګړې دي. څومره عالمان د دین او د دنیا د واړه
علمونه لري. او ستاسو عالمان د لویو لویو ښارونو فلارے
نه خبر نه وي. د چپل پاکستان حدود هم نه پېژني. لنو
څومره په مشنونو کښې روح دے. او ستاسو په تبلیغي کارونو
کښې هیڅ روح نشته. دا څومره د حق والي او ستاسو د ناحق والي
دلائل دي.
د دے په باره کښې به دا اوابو چه دا خو تا خو ئې. چه
موجوده انجیل نه د خدای کتاب والیئي. او د دے په
باره کښې د ومره خواري او محنت کوي. که چا ته ستاسو

دانجیل حال معلوم شی. نو تا څو ته به لیونی اوائی. چه نه
ګوره په دے کار د سره محنت خو دروغ خلقو کار
نه شی کیدے. نه ګوره په بائیبل کښ مے دا
لیکلی دی. چه (۱) لوطؑ د شراب په مستئ کښ د
خپلو دواړو لونړو سره زنا اوکړه. پیدائش باب ۱۹. آیات ۳۱/۳۸
(۲) د داؤدؑ د ترخ ګړ مولود پاره به د ملک ځوانِ ځوانِ
خاګسته جینکئ راوستے شوے. اسلاطین باب ۱۹
آیات (۱) تا (۴)
(۳) سلیمانؑ چه بادشه. نو د ده خزو د ده زړه د بُتان
طرف ته واړه وو. سلاطین. باب ۱۱. آیت ۴
(۴) ابراهیمؑ او اسحاقؑ خپلو خاګسته خزو ته خپلے خویندے اُوے
او ښکاره دروغ اُوے. پیدائش. باب ۱۲۰. آیات ۱۲/۱۹
دادی. د بائبل پیغمبران چه (توبه دبه)
شرابیان. زناکار. بُت پرست. او دروغجن دی.
او قرآن د خوږ نبیؑ د پیغمبری د ښتنوالی په ثبوت کښ
د ده د پاک ژوند دلیل راوړی.
چه "محمد خو به تا څو کښ د پیغمبری نه مخکښ خلویښت کاله
ژوند ے پاتے شوید ے. نو ستا څو عقل نه وائی؟
۱۰/۱۶ یونس.

او قرآن۔ د دے پیغمبرانو پاک دامنی۔ او هر قسم نیکی او
شرافت بیان وی۔
قرآن د لوط په باره کښ وائی دے ځمونګ پیغمبر وؤ۔ منګ
دے ځکه د عذاب نه ساره د امتیانو خلاص که۔
سورة صٰفٰت۔ ۳۷۔ آیت ۱۳۵
قرآن د داؤد په باره کښ وائی۔ منګ داؤد ته لوی او بزرګی
ورکړه۔ سورة سبا۔ ۳۴۔
قرآن وائی۔ سلیمان ع هیڅ کله کفر نه وو کړے۔ بقره۔ ۲۔ آیت ۱۰۲
قرآن وائی ابراهیم د پیر رشتنے پیغمبر وؤ۔ مریم ۱۹۔ آیت ۴۱
قرآن د یهودو په تردید کښ د عیسےٰ ع او د هغه د مور۔ او د عیسےٰ
د پیدائش پاک ذکر کوی۔ په غیر ملکونو کښ عیسایان د تبلیغ
نه انجیل منع کوی۔ وائی۔
چه غیر قومونو ته مه ځئ۔ بلکه د اسرائیل ورکے کړے ګډورې
متی۔ باب۔ ۱۰۔ آیات۔ ۶۔۷۔
څه خو اسرائیلی کړے شوم بل چا سخه مه ځئ۔ د هلکانو
ډوډی سپو ته مه اچوئ۔ متی۔ باب۔ ۱۵۔ آیت۔ ۲۴۔ ۲۶
عیسایان داهم وائی۔ چه ته ګوره اسلام د څلورو خزو سره د نکاح
اجازت ورکوی۔ دا په خزو خو مره ظلم دے۔
جواب ها ؤ دے۔

په انجیل کښې خو بو بو بو پیغمبرانُ دا سې کړے دی
دا انجیل په وینا۔
د یعقوبؑ په نکاح کښې دوه سکه خویندے په بود بنت
کښې دے۔ بساه۔ او راخل۔ پیدائش۔ $\frac{۲۹}{۳۰}$۔
د سلیمانؑ سره په یو د بنت کښې اوه سوه شاهزادگئ
خزے وے۔ سلاطین باب ۱۱۔ آیت ۱۳
عیسائیت خو په خزو دومره ظلم کړے دے چه
چه دا غریبه خپل نوم نه لری۔ چه ناواده وی۔ نو دپلار
په نوم یادیگی۔ او چه واده شی۔ نو د خاوند په نوم یادیگی
په عیسائیت کښې خزه د میراث نه محروم ده۔ د مذهب
په نوم چه کومے خزے په کرجو کښې کینی د راهبه)
نو دے سرا اُخری۔
او که سړی راهبان شی۔ نو دے په خپل شکل وی
قرآن خو ددی په نوم سورة النساء راوړی۔ او په دے
کښې د خزو حقوق بیان وی۔
عیسایان سړو د ځان د پاره په جامو جوړو کښې چه کوم
لباس جوړ کړے دے۔ هغه ذکر مئے سړ ځئے دوا ړو
د پاره مناسب دے۔ و لے خزے ئے د ځان د شوق
پوره کو لو د پاره په دا سے جامو کښې بربنډ ے

لغړے کړے. چه داغریبه په ګرمئے سړ ځئے کښې
بربنډ ستے. ښکاره تې. نیمه پټه. نیمه بربنډه
تړوګو نو ښکاره. د سړو د شهوانی خواهش
پوره کولو دپاره په کورا و بازار کښې ګرځی.
شو ځلے ئے ورله تباه کړے. شا دوکان ته جوړے شوے
په تیزابی خوشبو په تیلوئے ورله سړو نه سپین کړه
د مقابلے د حسن په اډو کښې نوے نوے خائسته جینګۍ
راوستے شی.
یو لیشت تنګ ورته واچوی. او د هر طرف نه د دے
د خائست نظارے کیګی. ډنلو په بهانه ددی تې. مخے
روګونو نه کتلے شی.
ډاکارونه د نفس بندیان عیسایان کوی.
دے نه د خائست قدر دانی.
داخو د خائست بے عزتی ده. دے ته حینه عالم
نوم کړی. داخو خپیسه عالم شوه.
ددے بچان د سړو په ځانے خرے پکار وی. او ددی
مقابله په خوئی کښې پکار وه. په شکل کښې د دے څه کمال
دے. که داسے شوے وے. نو عیسائی دنیا به جیل ځان
ته پیرا بلا د ننګه لید لے وو.

په اسلام کښې د کنړو نکاحونو څه د کنړو انتظام کول دی دا حکم نه دے دا دارو دی. ور سره ورته وائي. چه کوړې د دے جواز سره به انصاف هم ضروری وی.

خوږ نبیؐ په خپل ژوند کښې د پنځوشپیتو کالو په عمر کښې د خلویښت کالو د کنړې سره نکاح کړی. او تر پنځوس کاله هم د دے سره ګذاره کړی وه. دا د خوږ نبیؐ د ځوانئ حال دۀ.

بیا د پنځوس نه پس په سیاسی اغراض. د قومونو سره د دوستو پیدا کولو. د یوې کنړې سره د لوئ جرنیل خاوند په مرګ د دے د زړه د تسلی د پاره د دے سره نکاح کړی. هم دغه د کنړو نکاحونو جواز قومونه د دشمن مقابلے ته اوباسی. چه ګډ ځه سړے شم. نو خیر دے بی بی به مے څوک په نکاح واخلی. د یتیمانو انتظام به هم اوشی.

او ستا خو پیروانے د عیسائیت د صداقت په وجه نه دے شوے. تا خو د تجارت د کمپنو. د هسپتالونو سکولونو. کالجونو. په بهانه. په چالاکئ سره لورو ملکونو ته قبل کړے دی. هلته مو بیا په بادشاه او رعیت کښې اختلاف پیدا کړے دے. او هلته مو خپل حکومت قائم کړے دے. وایه دا اسلام چه د خپل صداقت په

وجه په ملکونو کښې قبول شوے دے. مشرکین عرب دِ قیصر او کسرىٰ لوٹی. نصرانی او مجوسی طاقتونه د اسلام ضد اقت ته راکاګه شوی دی. او ډیرے ډیرے په اسلام کښې داخل شوی دی.

عیسایانو د دهر ملک د سرمایه دارو بچو د پاره د اسے ډیرو کالجونه جوړ کړه. چه دی په کښې خپل بچی د خپل شان د لوئی ساتلو په غرض داخل کړی. په دے کښې دا بچی که عیسایان نه شو خو مسلمانان هم پاتے نه شو.

او بیا د غه قسم خلق د خپلو تعلیمونو و مالدار او په وجه د وطنونو مشران شو. نو دا خلق خود د اسلام نه دبے خبرے په وجه د اسلام سره خاص محبت نه لری.

وے نو اسلامی ملکونه د دے جال او چالاکئ نه خبر شو ځکه اوس عیسائیت د اسلامی ملکونو په تیخته دے او په بیر دلے خود صداقت نخه نه ده.

که نی لا مذهب دهریه روسیان سناخو نه هم ژبات دی نن ورځے خو چیه ځوک زیات غبن او ظلم کوی. هغوئ زیات دی دا د حق والی او صداقت نخه نه ده.

عیسایان د دے کوشش کوی چه په اسلام دا الزام اُ د لګوی. چه اسلام په جنګ جدل خور شوے دے. وے غه ده چه

زمانے دا ښکاره ثابته کړه. چه په جنګ عظیم او طوفانی جنګ کښې عیسایانو دومره خلق هلاک که. چه د ځینې زرګم ښار څه هم په اسلامی جنګونو کښې نه دی مړه شوی مسلمانانو په جنګ کښې ځوانان سره جنګ کړے دے او دی ئے د مقابلے په وجه وجلی دی.

بد الګمان. خزے. اوبچی د دی دلاس نه دی آزاد شوی او عیسایانو د چینجو ځیسے دې خوک هلاک کړے دی.

هسے خو دا عیسایان غوړے زبړے وای. چه کوړئے چه د شر مقابله په شر اُنه کړی. او بل خوا په عمل کښې ګمونه راکتونه جوړه دی. غلبیل راپاسی. کوځے ته وائی چه تا کښې دوه سوری دی.

او که نا څوګمنګ د دین په تبلیغ کونکوا و د دی په نارا ستئی اعتراض کوی. نو په دے کښې به څه داقل لے او وایم. چه الله دِ ورله ستاخو په دے اعتراض غیرت ورولی. څه فرقه بازی. او نار استی ده ډیره سپکه سوره خبره ګڼړم او څه خو هر کلمه ګوا و اهل قبله مسلمان ګڼړم.

او ځا خو دا مقصد دے. چه اول م د خدائے توحید منونکښی خلق یو کی. او بیا دِ خدائی د نول د نیا انسانان

دهریه عیسایان. یهودیان. او مجوسیان. او بت پرست

او نور مشرکان د یو خدای منلو ته طیار کړي. اُوس تاڅو
عیسایان خو د خپلو غټو غټو مالدارانو نه غټې غټې تنخواګان
اخلئ. او د حکومتونو په امداد سره دا تبلیغي
کارونه کوئ. ولې دلته د دینه یو هم نښته
منګ د خدای په اسره کار کوؤ. او هر څه د هغه
نه ګڼو. په عوام کښې چه تر څو د اسلام سره
مینه نه ده راغلې. او هغوی په دې نه دي پوه
شوي چه څمنګ د پاره دیني درس و تدریس د دنیا
د ترقی نه زیات ضروري دي. تر هغې به جمهوري
حکومتونه کله د اسلام د مبلغین اِمداد اُوکي؟
تاڅو ته به څما دا خبره هم عجیبه ښکاري. چه دا
لا څوک دي. چه څمونږ سره دلسې په نیغو
خبرې کوي.

ولې تاڅو خبر شئ. چه غل که غلا کړې ده. نو
سوکیل ارادۀ وه. غلاګر په حقه نه وه. که څوکیل ال
لاویغ شه. نو د حق او ناحق حقیقت به غلاګر ته معلوم
شي.

د عیسائیت نه که د څمکې. د زرو. او خزف مادي
طاقتونه لرې کړې شي. نو یقین نه دی. چه تاڅو

دا شوی عیسایان عیسایان پاتے شی۔ او مسلمانان چه دی صیحیح مسلمانان وُ . نو دی په ډیرے بے وسیٔ او بے کسیٔ کښې په خپلو سرونو توبے کړے دی۔ د کا فرانو نه ئے ګلے کړے دی۔

اِقبال۔ دشت تو دشت ہیں دریا بھی نہ چھوڑے ہم نے
بحرِ ظلمات میں دوڑا دئے گھوڑے ہم نے۔

تا خو دا فریقے په تبلیغ کولو ډیر ناز کوئ . ولے ستا خو د مبلغ دا رپوړ دے۔ چه د اِسلام مبلغین په افریقه کښې او تنه اِسلام ته دا ولی . او عیسائی صیله درے تنه عیسائیت ته دا ولی .

سره د دے چه د عیسائی مبلغان سره هر قسم مالی امداد دی۔ او د اِسلام مبلغان یکی بولئے په خدائی اعتبار دے۔ عیسایان په باهر ملکونو کښې د عیسائیت تبلیغ کوی . او بخپله په عیسائی ملکونو کښې د عیسائیت جنازه په وَتو ده۔ بائیبل خو زنا ته ډیره بد وائی او زنا سزا د کانړو و لیشنه لیکی او په طلاق هم نکاح مات نه منی۔ ولے نن په عیسائی ملکونو کښې زنا او حرامکاری دومره عامه شوے ده۔ چه د طلاق سرلښته

په لکهونو حرام بچي په حسپتالونو کښ بالے شي په انګلینډ کښ قانون پاس شوے دے. که د یوویشت کالو نه پورته کس هلک بازي اوکړه نو دا خیر دے.

تاخو حمونږ په عالمانو او نیکانو اعتراض کوئے. چه دی بے عمله او ناراست دی. ولے دی سره د دے په مسلمان قوم کښ د دی اخلاقي حالت خه ساتلے دے.

او ستا خود مفتیان مبلغانُ د قوم دا حال دے تاخو په خپله مادي ترقئے مه فاز نکئے. دا ترقي د تباهئے مخکښې مخ بادونه دی.

نو عیسایان او هغه خلق چه د اسلام په باره کښ شکمن دی. هغوئ دې اوکوري. چه په عیسائیت کښ څومره بدرنګي او په اسلام کښ څومره خوبي ده.

د قرآن کلام په لکهونو حافظانو ته یاد راغلے دے. په قرآن کښ یو ټکے کم و زیات نه شي کیدے.

قرآن د نورو کتابونو او د پیغمبرانُ د عزت حفاظت کوونکے دے. او قرآن په ځان کښ د نورو هسے دعولو روحانو ستورو رنړا رانیسکلے ده.

راځئ په دے خوږ نبی مُحَمَّد صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ ایمان راوړ ئ . په دے به مو دین او دنیا ځائسته شی ، ده دین د اللّٰه دین دے . د ده کتاب د خدائ کتاب دے . د ده قبله بیت اللّٰه ده .

د ده تابعدار د اللّٰه تابعدار دی .

د قرآن ژبه ژوندئ عربي ژبه ده . دے خاتم النّبیین دے په دے ایمانداری به انسانی مساوات او رورولی پیدا شی . په هر جمات کښ به هر یو مسلمان برابر اودرےدےشی . د امیرانُ او غریبانُ کرجے به جُدا نه وی . د کوره کانُ قبرستان جدا او ده کاله خلقو قبرونه به جُدا نه وی .

شعر - تیرے دربار میں پہنچے تو سبھی ایک ہوئے .
بندہ وصاحب ومحتاج وغنی ایک ہوئے .

گورئ ! یسوع د دے خوږ نبیؐ د راتلو زیرے ورکړے دے . په ده ایمان راوړه صحیح عیسائی توب دے گورئ ! داستاخو د دین بد رنگی ده . چه تن په کروړونو روسیان لامذهبه شو . تن مسلمانان په خپل ژوندون کښ ډیر سخت په تکلیف کښ گیرِدی . وےسهٔ د دے دوئ د دین اسلام نه بل دین ته نه کرځی

په دی نه د اشتراکیت اثر کیګی. او نه د مشنرو زر زن. او زمین په دی اثر کولے شی. دو مره ده چه هسے بازاریان. هوس پرست خلق د دی نه د څه بود د پاره د دی سره آواز یو کوی. خو دی څوك عیسائیت نه د عیسائیت د حق والی په وجد نه شی راوستے. نو څه به په آخر کښی هم هغه د قرآن د آیت ترجمه اکسم. چه چه خوښه نئ ! ته ورته اُو وایه. چه اے کتا بیانو هغې خبرے ته راشئ. چه څو نبز او ستا سو په منځ کښی یو ده چه د یو خدائ عبادت اکو. د ده سره څوك شریك نه کو. څوك د ده په مقابله کښی اربابان او نه نیسو. پس که دی منځ اُوګر ځو. نو ته ورته اووایه. چه خه ده ګواهان شئ.

چه منګ فرمان بردار یو

وَمَا عَلَيْنَا اِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِيْنُ ۝

حبیب الرحمٰن

عیسائیت په چا کښې خوریګی.

عیسائیت ځمونږ په خوارو عاجزانو کښې خوریګی ماړه خلق ته د سره پیچ دی. خواران عاجزان د چیلې خوارۍ لګی بې کارۍ لړې کولو د پاره هر طرف ته منډې وهي. نو په مشنریانو پېښ شی دی د دوه و بنته په مړه ګېډه ډوډۍ نه مومی. بچو ته تعلیم نه شی ورکولې. د خیلو ناجوړو د دارو درملو نه لاچاره دی. د مشنریانو خلق چه د بل وطن نه د سمو په بڼکار پیسې راوړی دی. دی په دی پېښ شی. دی د دوئی مفت دارو شروع کی. د دی بچو ته مفت تعلیم ورکوی. د دوئی ته ښځې پړدې جامې جوړې واخلی. د پېسو ډبې ورکی. نو دې تحفې تحائف ورته ورکول شروع کی. تر دې چه د بعض ځوانانو د واده انتظام هم اُوکی. په دې عمل دا قسم خلق ډېر خوشاله شی. په خیلو مسلمانانو کښې د دوئی سره څوک په سمه خُله خبره نه کوی ورکړه راکړه خو پرې کده. نو دې دا فیصله اُوکی. چه منګ دا مسلمانی او اسلام څه کوتول

ہال ژوند ئے د دی سرہ نہ شریکہ وُ چہ څہ پورہ ہ ولے او مزیدار ژوند ون شروع کو نو دوی سرہ شی نو عیایان شی۔

د دے نہ د بچ کید و څہ علاجونہ دی ؟

پہ مسلمانانو کښی د معاشی نظام داسے برابرتیا پکار دہ چہ هر څوک د ژوند د ضروری اُمورو نہ بے برخے نہ وی۔ چہ دے د خپلے کے غریبئ۔ او بے اسرے والی پہ وجہ د چا اسرے نہ لہوی۔ ځان نہ گذارہ ئے څہ وی او پہ خپلو خپو لاړ وی۔

دویم پہ ملک کښی دِ هیڅ یو تن یا موکی تہ د دے اجازت نہ وی۔ چہ هغہ د چا د غریبئ او عاجزئ۔ یا نادانئ نہ پہ څہ دروغ ریښتیا ویلو فائدہ واخلی۔

دریم۔ پہ غریب او عاجز وخلقو کښی دِ د بنی بیدارئ او د قومی عزت پوہ پیدا کړے شی۔ چہ خلق پہ آسانہ خپل دین او ایمان پہ څہ مال دولت نہ خرسوی۔

پہ دے تجویزونو کښی اول او دویم تجویز خو د حکومت سرہ تعلق لری۔ چہ د هر چا د خوراک سکاک فقیری او بے اسرے والی د پارہ معاشی مساوات پیدا کی۔ د هر چا د نا جوړو۔ بے تعلیمو د علاج

او د تعلیم انتظام اوکی. او د عاجزانو د زور آور و نه د خلاصی د پاره پوخ عملی اقدام اوکی.
چه هیڅ ځوک ځان بے اسرے نه گنړی او د هرچا عزت د طاقت منو د حملے نه بچ وی.
او د غسے حکومت د دنے قسم مشنرو۔ او نورو ادارو اندازه اولگوی چه دی خود چا د غربت او جهالت نه غلط فائده نا خلی. مونگ د چا د دین او عقیدے د تبلیغ بندیز نه کوو. خو دا چالاکی تبلیغ نه دے دهوکه ده. دا کار مونگ نه د ځان د پاره او نه د بل د پاره خه گنړو.
نو دا قسم چالاک ادارے او مشنری قانوناً بندہ ول پکار دی. تعلیم او علاج خه سیزونه دی. لیکن د دے په ذریعه د چا په دین او ایمان ړاکه غو ځول فتنه ده. د دے فتنے نه مذهبی رواداری وېل نه دی پکار بلکه دا خو بېړه سادگی او ناپوهی ده. دی خو د غلا په دروازه کارکوی. دا قسم سیاسی او مذهبی غله میچیانُ وی. اوکړ اشتراکیان وی. د دی فکر ساتل او د دی د وطن نه اُخکه د پاکستان ضروری فرض دے دا کار په نوم مذهبی کار دے. ولے د دے نه به سیاسی

جالونه جوړیکی

دریم۳ کار ځمونږ د علماءٔ او طلبو پورے دونکو دے چه په خوارانو عاجزانو کښې په کلو . بانډو - او لرو ولرو خوار و زار و خلقو کښې د دین د پاره مذهبی بیداری پیدا کی - چه دی د دین په خرسولو رضا نه شی . دا کار تر ډیره حده د مولانا الیاس رح مرحوم تبلیغی جماعت کوی - خلقو ته پکار دی - چه د دی په کار کښې شریک شی - او ځان د تبلیغی محنت د پاره عادت کی . بیا ځے په بنډاریو کښې په تختو لو . او ممبرونو موبو د دنو غځو ولو او جلسو کښې په تقریرونو د عیسائیت مقابله نه شی کیدے - دا ړه واړه د پښتو کتابونه چهاپ کول او دی ته او دحل پکار دی د غریبانو د دارو درملو د پاره د هسپتالونو انتظام پکار دے - په دے کښې د مالداره طبقه قربانی او کړی - او مالی امداد د ے نه دے او کړی . دا مشنریان د عیسایانو مالداره خلقو په خپلو دولتونو خرسونو دلته را پیکلی دی . بل مالداره طبقه د خپل اولاد د مشنریان په مدرسو کښې نه داخله دی -

دا څومره د شرم خبره ده . چه مسافر عیسایان

دِ خپل کالجونه او سکولونه دِ سے باقاعده کی۔ چه ځمونږ بچی ځان تهِ را کانګی۔ او مونږ سره د مالداری او آزادۍ د دے قسم اِنتظام نه عاجزه یو ځمونږ مقصد خوبیا ځکے تعلیم نه دے۔

ځمونږ لوئی مقصد خو دین۔ او د خپل قوم او وطن بقاء او حفاظت هم دے۔ مونږ مسلمان او پاکستانی اُسیده غواړو۔ که مونږ د مشنریانُ تعلیم د دے نه محروم کی۔ نو دا ځمونږ د پاره په پتا سه کښی ز هر دی۔

ځمونږ دا اُنبیاءانُ دا فرض دی۔ چه خلق د دے کوک رفتاره منع کی۔

ځمونږ زورآورخانان۔ نوابان۔ او جاګیرداران دے په غریبو خلقو دومره ظلم نه کوی۔ چه هغی د عیسایانُ مشنرو تهاوُرسوی۔ او د هغوئی د کفر سبب اُوګرځی۔

تش په دے نه کیګی۔ چه هلکه مکښی خو د مشنرو دومره زورنه وی۔

اُش ولے په بیه شو؟

نه کوره اِسلام حق مذهب دے۔ او خلق

عیسایان کیږي! دوستانو! هڅوئ کارکوی - او ته که د پښتنیا درته اُوایم - نو خفه به شے -

د پرویزیت فتنه!

عیسائیت په خوار وزار و او عاجزو خلقو کښې خور ږکی. او پرویزیت په غټو مالدارو او اُوچتو خلقو کښې د قبولیت مقام موندے دے - او د دے وجه د مغربي تهذیب او تمدن ردّ عمل دے - د چا دلاندے چه مونږ غلامان پاتے شوی وُو - دا فتنه اُوسنئ نه ده دا د انګریزانو د زمانے نه شروع وه - او رو رو ئے خپل اثر کاوُو - په مونږ کښې چه کوم خلق د مغربیان د پرقاپرموق او دنیوی ترقی نه مرعوب وُو - هغی د مونځکښې نه د اِسلام قمیص او څخه غورځولے ده - خو په هغوی کښې دا طاقت نه وُو - چه د مسلمانانو نه جُره جمات او غم خادی جُدا کی - په دے وجه دی سره د دے چه د اِسلام نه کمِله من وُو - دی د مسلمانانو سره په دروغجنه ناسته اُلاپه کوله

دی به په دے حالت کښې د قرآن او حدیث نه د خپلے هرے غلطے خبرے د پاره دلیلونه کاته او د قرآن او حدیث د صحیح خبرو تاویلونه به ئے کول۔ کوم چه د دی د خیال نه مخالف وو۔ او دا د مغلوب ذهن عام عادت دے۔ دے ذهنیت مختلف نمونے او جلوے جوړے بدلے کړے دی۔ او تر څو چه مغربی فکرونه او نظرئے۔ مغربی تهذیب او تمدن د خلقو په زړه او دماغ باچاهی کوی۔ تر هغے به د دے لیوَښتوب بادونه چلیږی۔

د دے عِلاج

د دے علاج صرف دا دے۔ چه څومره زر په دے خلق د دے زهر پله پتاسے حقیقت ښکاره کړی۔

او دا مغلوب او مرعوب ذهنیتونه په دے پوهه کړی۔ چه د دے تهذیب او د دے دنیوی کسبی فنی ترقی په مغرب کښې کوم آباد دے او خوشالی پیدا کړه چه ستا خوږ دنه لاړے بهیږی، ولے دا د اسے زور آور جادو دے۔ چه د دے زهرو پازه لرے کول د معمولی پاړه د کانړو او دیو څو چڼو کار نه دے د دے یو علاج خو دا دے۔

چه دا تهذیب په خپله خپل تیره خنجر به ځان
کښې خخ کی او دے پوښ بناه شی. یا د دُنیا دیوکې
نه اسلامی دعوت په خپل زور شان وشوکت ارا
پورنه شی. او د مغرب مول فکر ونه او فلسفه
تار تار کړی. په دے کښې به کوم یو کیګی؟
او کله به کیګی؟

دا خو ځه نه شم خو ے. خو ځه د قدر دا
په یقین سره وایم. چه سخته که همی شی. نو باران
خامخا کیګی

د دے کفر. اِتحاد. چالاکی. ظلم او عدوان
رد عمل به خامخا دے نه یو وی.

او ډیر زر به وی.

دا خو به راځی. آخر ځمونږ په ذمه هم څه فرض
شته کنه؟

په دے وخت کښې د اسلام او د مغربی فکر او
فلسفے په مینځ کښې جنګ دے.

او د مغربی نظریات غلبه ده. د دے په حمایت
کښې که هر څوک کما ماکسیما راپاسیږي. او د دے د
پاره ځه خدمات کړی. غلط. سلط. د قرآن

او حدیث دلیلونه اُولیکل. نو هغه د مغرب زده خلقو امام جوړ شی.
هغه علاّمه شی. او د هغه تعریفونه کیګی. د کتاب. او سُنت ماهرینُ ته د لسے مقابلے همیشه پیښے راغلے دی.
او خدائی حق ته همیشه کته ورکړے ده.
خود دے دپاره د اعلیٰ ذهنونو او لویو دماغُ دیو ځائی کارکولو ضرورت دے.
چه دی د مغرب مول فکرونه او فلسفے دویکنه راُباسی او د دے ړړ والے دوستو اسے بنکاره کی نو بیا به هیځ څوک دا قسم فتنے نه پیدا کوی.
او په پاکستان کښی به هغه صحیح اِسلامی فکرونه پیدا شی. دکم د پاره چه پاکستان جوړ شوے دے اے الله ته دا سے اوکښی. آمین.

حبیبُ الرّحمٰن

تصنیفات دار التصنیف رستم

تفسیر حبیبی پارہ اول	.	.	۳ روپیہ
" " دویم	.	۸	۲ "
" " سویم	.	۴	۲ "
" " چہارم	.	.	۲ "
تشریح البخاری پارہ اول	.	.	۳ "
د حج تحفہ ...	.	۴	۱
د قرآن خوږے خبرے	.	۸	.

پتہ ....

محبوبُ الرحمن خلفُ الرشید

مولانا الحاج حبیبُ الرحمن رستم

د قلمہ کاتب رستم 3-H.B.